## داوطلبۍ ته بلنه
## داخلي پرانیستې داوطلبي

**پروژه:** د مالي او محاسبې لوی آمریت د اړتیا وړ د افغانستان بانک د مالي صورت حساب د بررسی لپاره د یو مشورتی شرکت ګمارنه.

**داوطلبۍ ته د بلنې شمېره:**DAB/1401/NCB/CS01

۱. د افغانستان بانک ریاست په پام کې لري څو د ۱۴۰۱ کال لپاره د ځانګړو شویو وجوهو یوه برخه د پورته یادې شوې پروژې لپاره د DAB/1401/NCB/CS01 داخلي پرانیستې داوطلبۍ د کړنلارې په کارولو سره ولګوي.

۲. د تدارکاتو آمریت د افغانستان بانک په استازولۍ ټولو په شرایطو برابرو داوطلبانو ته بلنه ورکوي څو د یادې داوطلبۍ په پروسه کې ګډون وکړي او د (REOI) د شرایطو سره سم خپل آفرونه وسپاري.

۳. د دې قرارداد موده { **د تحویلی جدول مطابق** } ده.

۴. دا داوطلبي د داخلي پرانیستې پربنسټ چې د افغانستان د تدارکاتو په قانون او کړنلاره کې ترې یادونه شوې ده، په لاره اچول کېږي او په (REOI) کې په ګوته شویو په شرایطو برابر هېوادونو د ټولو داوطلبانو پر وړاندې پرانیستې ده.

۵. په شرایطو برابر ټول لیوال داوطلبان کولای شي په دري ژبه د افغانستان بانک د ویب پاڼې (www.dab.gov.af) څخه د داوطلبۍ اسناد ترلاسه کړي او د نه لاسرسي په صورت کې دې د (naqib.rassooli@dab.gov.af) بریښنالیک او یا هغې پتې څخه چې لاندې یې یادونه شوې ده، د داوطلبۍ سندونه په خپل فلش دسک کې ترلاسه کړي.

٦. (REOI) **باید لاندې پتې ته د سهار له {10:00} بجو مخکی 1401/05/12 او یا 03/ اګست/2022 وسپارل شي. د یادونې وړ ده چې له ټاکلې مودې وروسته رارسیدلي او الکترونیکي آفرونه د منلو وړ نه دي.**

7. پر شرایط برابر داوطلب باید لاندې شرطونه پوره کړي:

1- ۱. **د داوطلب لپاره د خدمتونو حد اقل کاري حجم:** تجربه او تخنیکي ظرفیت: داوطلب باید هغه اسناد ولري چې د تجربې او تخنیکي ظرفیت د لاندې معیارونو پوره کولو ښکارندوی وي.

2- د تیرو پنځو کلونو په اوږدو کې د کلنی راکړې ورکړې حجم **14,850,000**/ څوارلس میلیونه او اته سوه او پنځوس زره افغانی.

3- داوطلبان باید د اسنادو په چمتو کولو سره ثابته کړي چی په تیرو 10 کلونو کی د ورته قرارداد لږترلږه (یو/دوه) ترسره کولو تجربه د لاندی ارزش څخه ښکاروندوی وي. یوه ورته پروژه لږ تر لږه **9,652,500**/ - نه میلیونه او شپږ سوه او دو پنځوس زره او پنځه سوه افغانی -. په تیرو لسو کلونو کی.

4- د نغدي شتمنیو او یا اعتباري اسانتیاوو او د داوطلب د نورو خالصو قراردادي ژمنو خالص مبلغ په لاندې ډول دی: د اعلان له ورځې تر آفر پرانیستنې پورې **ټولیز ارزښت** (: **4,158,000** – څلور میلیون او یوسل او اته پنځوس زره افغانی)

8. آفر پرانیستنه د داوطلبانو او د هغوی د واک لرونکو استازو په شتون کې د آفر د تسلیمی د وروستی نیټې په پای ته رسېدو سره په لاندې پته ترسره کیږي.

**د (REOI)د سپارلو پته:**

د تدارکاتو لوی امریت، د افغانستان بانک، پښتونستان واټ، کابل، افغانستان

د اړیکو شمیره: 202106692 (0) 93+

برېښنالیک: najib.safi@dab.gov.af

ویب پاڼه: www.dab.gov.af